Afghanistan Digital Library

adl0676

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# اساسی نظامنامهٔ

# دلوړ دولت د افغانستان

(در مطبع دائرهٔ تحریرات مجلس عالی وزرا طبع شد)

«۱۹ حمل ۱۳۰۲»

تعداد طبع ........................ (۲۵۰۰) جلد

هو

# اساسی نظامنامه

# د لوړ دولت د افغانستان

(در مطبع دائرهٔ تحریرات مجلس عالی وزرا)

طبع شد.

«۱۹ حمل ۱۳۰۲»

تعداد طبع ........................ (۲۵۰۰) جلد

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 4 of 28



# (اساسی نظامنامه د لوړ دولت د افغانستان)

۱— لوړ دولت د افغانستان په دننني او دَ باندني کارو کښې پوره
استقلال او خپلواکي لري، او ټوله ښهرونه، ملکونه، ټکړې
د دے دولت په حکم او فرمان د خپل پادشاه کی یو راز او برې
تفاوت نه ځان جوړ و لای سی، او هیڅ جلا والله په بهانه د لو
د نظامو د دولت و تکړانو ته د دے دولت نه ورکوله
کیږی.

۲— دین د افغانستان پاک دین د اسلام دی، اهل د نورو
دینو چه غیر له اسلامه په افغانستان کی سته، لکه هندوان
او یهودیان که د عمومی ارامی، او لازمی احتراماتو ته د
افغانستان خلل او وېجاړنه نه ورسوي، ټوله په غیر د
د امان، او د ساتنی نیول کیږی.

٣.— دَافغانستان دَپادشاه پای تخت کابل دَی، او
ټولو رعیتو د افغانستان ته ستر‌گه دَ پادشاهی
په یوه کتنه ګوری، چه د کابل او دنورو ښهرو رعیتو
پادشاه ته هیڅ فرق او بیلواله نه لری ..

٤.— په سبب دَلویو لویو خدمتو چه اعلیحضرت ولا پیلابکی
د پوړته کولو او لوړو لو د ملت دَپښتانه ښکاره کړی دی
ملت نجیبَ پښتانه ذمه برداره کیږی، چه
پادشاهی دافغانستان به و اولاد او زامنوته
ددغه ترقی پسنده پادشاه ورسیږی، چه سم له
قاعدو سره د اولاد والی به په خوښه او تاکنه د پادشاه
او د ملت - ذات ملوکانه غوره کیږی، او ذات دَ
پادشاه به په اول کی کښینستو پر تخت دَپادشاهی
په حضور دَ لویانو او غتانو د دولت او ملت
ذمه برداره کیږی چه مطابق دَ شرع شریف او سم لهٔ
نظامنامی اساسی سره به اجرا د حکمو کوی - او
استقلال - او خپلواکی د افغانستان به ساتی
او صداقت او رښتنه به دَ پاره د خپلو

رعیتونو او وطن لازمه بولي .

٥ .- لوړ ذات دَ پادشاه خدمتگار او ساتندوی دَ مبارک دین دَ اسلام دَی ، او پر تولو استیدونکو دَ افغانستان پادشاه او حاکم دی .

٦ .- دَ افغانستان دَ پادشاهی کارونه په واسطه دَ وزیرانو د دولت چه په قرار د تعیین او خوښولو دَ اعلیحضرت دریږی ، جاری او پوره کیږی ، هر یو له وزیرانو په خپلو وظیفو او کارو کی مسئول او جوابده دَی ، او له دی جهته ذات دَ اعلیحضرت مسئول نه گرزی .

٧ .- په خطبه کښی د پادشاه نوم اخستل ، سکه په نامه دَ پادشاه وهل تعیین او خوښول د درجو او د منصبو برابر له خاصو قاعدو خپلو سره ورکول د نښانو او رتبو درول د صدر اعظم او د نورو وزیرانو ، معزول او بدلول د صدر اعظم او د نورو وزیرانو او کاردارانو تصدیق او امضا کول د عامو نظامنامو او قاعدو او اعلان او حکم کول ، د ساتنی د دوی ، ساتل او جاری کول دَ شرعی او اسلامی او پادشاهی انتظامو ، قوماندانی

او مشرتوب د ټولو فوځو، او عسکري قوتو او پلټنود
افغانستان، اعلان د جنګ او تړل د صلحو
او د ټولو معاهدو د اجنبي دولتو سره بخښل
یا سپکول، د قانوني جزاوو عمومًا یا خصوصًا د اتوله
د لویو حقوو او استحقاقو څخه د پادشاهي شمیرل کېږي.

## عام حقونه د رعیت دافغانستان

۸.— هر څه نفري چه په ملك کې دافغانستان دي، په هر دین
او مذهب چه وي تابعان او رعیت دَافغانستان
بلل کېږي، تابعواله او رعیتي دافغانستان دوي ته
سم له خاصو قاعدو سره د رعیتي ورکول کېږي یا خیني
اخستل کېږي.

۹.— ټوله نفري دافغانستان آزادي او اختیار داري
د خپلو جانو لري، او د نورو خلقو آزادي او خود مختاري
ته ضرر او خلل نه رسي رسولای.

۱۰.— خپلواکي او آزادي د هر سړي له هر قسمه خلله
او مداخلې څخه ساتلې ده، هیڅوك بې له شرعي حکمه

اوبی له قانونی نظاموڅخه نه بندی کیږی او نه جزا ورکوله
کیږی په افغانستان کی اصول د بندیګرت یو قلم موقوف
او منع دی، هیڅ تراوبنجه هیڅوک په قسم د بندیګرت
نه سی خدمتګار کولای .

۱۱.- چاپی کتابونه یا پاڼی یا اخبارونه په دننه افغانستان کی
سم له خپلو نظامنامو سره ازاد دی، خپرول او جاری
کول د اخبارو له حقوڅخه د حکومت یا د رعیتو د
افغانستان دی، د خارجه مطبوعاتو په باب کی لوړ
دولت د افغانستان څه شرطونه او قیدونه اینبوولای
سی .

۱۲.- رعیت د افغانستان سم له نظاماتو او قاعدو سره سودا
ګری، کسبونه، کښتونه، په هر راز شراکتو - او
معاملو کولای سی .

۱۳.- رعیت د افغانستان یو یا ډله که یو کار پر خلاف
د روښان شریعت یا د نظاماتو د دولت ووینی
و د ائرو او د ریاستونو د دولت به یه عرض وی، که په
حکومتی درباروکی چه عرض ورته سوی دی وانه ورید وسی

او باز خواست او غور ورنه سي، ولو رته تر هغه دربار
خپل عرض کولای سی، او که غور په هیڅ دربار کي ونه سو
په سر سره و حضور مبارک ته د پادشاه عرض کولای سي.

۱۴.- درس د علم یو قلم آزاد او ایله دی، چه سم له نصاب سره
د معارف عمومي هر یو له رعیتو څخه د افغانستان
که عام وي که خاص درس ویلای سي، مگر خارجه نفري
غیر له هغو نفریو څخه چه د پاره د تعلیم نوکران سوي دي
نورو جوړولو او خلاصولو ته د دایرو او مکتبونو خوښي
کیږي.

۱۵.- ټوله مکتبونه د افغانستان د حکومت تر پلټنه او علم
آوري لاندې دي، حکومت به ټوله اسبابونه او تدبیرونه
چه تربیت د پوهني او پاسني د ټوله رعیتو د افغانستان
په کیږي، په یوه راز او سم برابر په ډیر غور او مټ
څرگنده وي، مگر دیني او مذهبي قاعدو د هندوانو
یا د نورو امان غښتونو ته هیڅ خلل او ویجاړنه نه
رسیږي.

۱۶.- ټوله رعیت د افغانستان په حکم کی د روښانه شریعت

او په قانونو کی د دولت په خپلو حقو او د دولت په وظیفو کی
پوره نګه دی .

۱۷.- عام نفری د افغانستان په قدر د خپل قابلیت او کار کښی
او لیاقت په تولو نوکریو او ملازمتو کی پر اندازه د
احتیاج د دولت نوکری او مأموریت موندلای سی .

۱۸.- مالیی او محصولونه په قرار د خاصو نظامنامو د محصولو تو
د پاره د رعیت د افغانستان له هره چا څخه په اندازه
د استعداد او ودانی ایښوول او اخستنه کیږي .

۱۹.- په افغانستان کی هر څوک په خپل مال او ملکه کی ساتلی
او خاطر جمع دی ، که یوه ملکه په لحاظ د یوی عمومی
نفعی د دولت پر کار سی سم له نظامنامی مخصوصی سره
رانیول کیږی ، چه پس له ورکولو د پوره قیمت د ملک
وخاوند ته دولت هغه ملکه اخستلای سی .

۲۰.- کور او ځای ، د استوګی د تولو رعیتو د افغانستان
له هر راز لاس وهلو څخه سوکه ساتلی دی ، هیڅوک
پادشاهی یا بل بی حکمه د نظامنامو د هیچا په کور بی اذنه
د خاوند د کوره سی ننوتای .

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 11 of 28



۲۱.- په عدالیته محکوکی تو له عرضو نه، دادو نه سم له شریعته
سره په قاعده و دحقوقي اوجزا يي محکو فيصله کيږي.

۲۲.- په زوره اخستل، بيگار ايگار له يوه مخه منعه دي
مگر کارونه يا ربړونه چه په وقت کی د غزا پېښ سي
هغه هم له نظامنامی خپلی سره سم له دی منعی څخه وتلی
دي.

۲۳.- زيات پر نظامنامو د دولت له هيچا څخه هيڅ نه اخستل
کيږي.

۲۴.- پا نه، کُنده، نور ازونه د شکنجي کولو گرده موقوف
دي، بي له حکمه د عمومي يا عسکري نظامنامو د جزا
و هيچا ته هيڅوک هيڅ جزا نه سي ورکولای.

## وزیران

۲۵.- په افغانستان کی اجراء د حکومت و تولنه ته د وزيرانو
او مستقلي ادارې ته سپارلي سوي دي، په وقت
د تولنی د وزيرانو مشرتوب د دري د مرکې په خپله
ذات د اعلحضرت کوي، او که دده لور ذات تشريف

نه درلود ، کار دَ مشرتوب یه دَ صدراعظم
برخه ده ، که صدراعظم نه وو ، دَ لمړی وزارت
وزیر به د مشرتوب وظایف اجراکوی .

۲۶- وکیل دَ وزارت چه په وقت کی د غایب والی د یوه وزیر
در ول کیږی په واکوالی د هغه وزارت کی کټ مټ
وزیر بلل کیږي .

۲۷- په هر کال کی پخوا تر عمومی جشن د استقلال ۱۹ لیږوه
روځ کی چه د اعلیحضرت معینیږی په مشرتوب
د شاهانه ذات یو دربار جوړول کیږی ، چه هغه
دربار له کار دار انو غځه د دولت اوله لوړو غټانو
لویانو غځه چه حضور د پادشاه یه عوړو کی سره
تول دَی ، پرځ د هغو تولو کی به هر وزیر او مستقل
مدیر خپل خدمتونه چه په یوه کال کی یه کړی دی ،
ښکاره بیان او څرګند وی .

۲۸- صدراعظم او نور وزیران د اعلیحضرت پادشاه له
خوا غوره او معلومیږی .

۲۹- مرکی ته د وزیرانو تولو د اخلی او خارجی لویی کارونه ګردول

کیږی ، او قرار دادونه چی تصدیق غواړی وروسته
له لاس لیکه او امضاء د اعلیحضرت په انده ولیکیږی .

۳۰.— وزیران به هغه کارونه چی په خپلو وزارتو به اړه لري
هو غونه چی دَدوی په اختیار او واک وی په انده
وی او تر واک پورته به چی سم حضور ته دَ اعلیحضرت
ورنجی حضور ته وړاندی کوی . او نور به سم له قاعدو
سره د نظامنامی دَ مجلس د وزیرانو و مجلس ته دَ وزیرانو
وروړی ، مرکه د وزیرانو به په هغو کی خبری کوی ،
او پراد وتړد خپلو فکرو به امضا کوی .

۳۱.— هر یو له وزیرانو به سیاست کی د دولت تولنی او
په خپلو خپلو وظیفو کی بیلنی و حضور ته دَ اعلیحضرت
جواب ورکونی دی .

۳۲.— په هغه کارو کی چی وبوه وزیر یا کاردار ته دَ اعلیحضرت
له خوا دَ خولی حکم وَسی . هغه وزیر یا کاردار به لیک
دَ حضور په هغه حکم کی حاصلوی .

۳۳.— یو وزیر که په خپله وظیفه دَ وزارت کی تر محاکمه لاندی سی
محاکمه به په عالی دیوان کی کیږی ، او قاعدی د محاکمی

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 14 of 28



په رسم له خاصي نظامنامې سره بیلول کیږي، او نوري شخصي دعوی دَ دوی یا په دوی چه له وزارت څخه جلا وي لکه نور رعیّت په عدلیّه محکمو کي بې فیصله کوي.

۳۴.- هر وزیر که له عالي دیوان څخه تر تهمت لاندي سو، تر پایه دمحاکمي او معلومي دَ براءت له وظیفي څخه دَ وزارت مُعطلیږي.

۳۵.- شمیر دَ وزارتو او جوړنه دَ دایرو او وظایف د هر یوه په تشکیلاتِ اساسیّه نظامنامه کي ښکاره دي.

## مَأمُورِین

۳۶.- کاردارانِ رسم له قاعدو سره چه په خاصو نظامنامو کي بیان سوي دي، پر کار و چه و رَا و مناسب له هر چا سره وي، دَ ور ل کیږي، او هیڅوک تر هغو پوري چه دي خلاصه و نه غواړي. یا په بد رفتاري، د معزولَي وړ نه سي، یا دَ دولت له خوا د بو ضرور کار دپاره آلِشْ نه سي، هیڅ وقت نه معزولیږي، او هغه کاردارانچي په ښه تلنه او سموالله دخپل

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 15 of 28



خدمت ښکاره شوی سی، حق دَ لوړید و دَ مرتبې او همیشه واله د کار داری لری.

۳۷.- د کار دارانو وظیفې د کار دارۍ په خاصو نظامنامو کې بیل بیل ښکاره سوی دِی، ټوله کار داران سم له خپلو نظامنامو سره له خپلو خدمتو څخه پوښتل کیږی.

۳۸.- ټوله کار داران کښته پورته په اطاعت او فرمان منلو دَ لوړ آمر او حاکم خپل سم له قاعدو خپلو سره مکلف دي، او که دَ پورته حاکم له خوا یو امر خلاف له نظامنامو ورته وسِی، لاندِ کار داران و مرکز دَ وزارت ته خبر ورکولای سی، او کے و مرکز ته د وزارت خبر ورنکی، او هغه خلاف امر یې جاري کی دی هم له هغه خلافه پښتل کیږي.

## دَ مشاوری مجلسونه او شورِی دَ دولت

۳۹.- په پای تخت کی یوه مرکه دَ شورای دولت او په نائب

الحکومګیو اعلیٰ حکومتو لګړی، دوم، دریم، حکومتو
او علاقه داریو کی یو یو مجلس د مشورت سته.

٤٠ - د مشورت د مجلسو اعضا او د شورای دولت غړی دوه
قسمه دی:-

(۱) اعضای طبیعیه.

(۲) اعضای منتخبه.

٤١ - طبیعیه اعضا د مجلس د مشورت هغه کارداران
دي، چه په تشکیلات اساسیه نظامنامه کښې بیان
سوي دي، او طبیعیه اعضا د شورای دولت
چه سم له شماره سره د منتخبه اعضاوو درول
کیږي، هغه سړی دي چې په سر سره له حضوره
څخه د اعلیحضرت غوره کیږي، او اعضای
منتخبه تو له د ملت او رعیتو له خوا د رایو له کېږي
په صورت کی د انتخاب د دوی، تشکیلات
اساسیه نظامنامه بیلی بیلی قاعدی
لري.

٤٢ - د مشورت مجلسونه او شورا د دولت زیات تر هغو

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 17 of 28



وظیفو چه په تشکیلات اساسیه نظامنامه کی
ورله ایښو سوی دی، داوظایف چه لاندِ لیکل دی
نوری هم لري :—

(الف) دصنعتو، سوداگریو، کښتو، معارف
دترقّی لو ړوالی دپاره هرڅه تکالیف دېروند
چی لازم وبولِي، ودولت ته یه وړاندِ کولای سی.

(ب) په مالیو آخِستو، محصولاتو کی دَد ولت یانورو
کارو کی چی له نظامنامو سره یه و رپاسم نه بولي،
دَپاره دَسموالي یا جوړښت، دَدغه سی کارو
وپادشاهي ته او حکومت ته ټینگ عرض
کولای سی.

(ج) که په حقوقو د رعیتو چی سم له دی نظامنامی سره
ورکړی سوي دِي، له یوه خواڅخه خلل یا
خرابي ووینی، وحکومت ته دَعرض کولو اودَ
استغاثي حق لِری.

۴۳ .— هغه فقری چی دمشورتو مجلسونه دَولایاتو
یا ښارو لاتو یه نائب الحکومه گانو یا وَحا کما نو ته

وړاندې کوي، هغه چې تړواک دَ حکومت دَ دوي لاندې
اجرا کوي بې، او تړواک پوره ته به و هغه وزارت ته
چې هغه فقره یې بناخ دی، پوره ته کوي، وزارت ته
چې ورسیږي لازم الاجرا به سم له واکو الی خپل سره
جاري کوي، او تړواک پوره ته به په دیرشمه قاعده
معمولوي، او که هغه فقره له قانوني قاعدو څخه وه،
سم له شپږ څلویښتې قاعدې سره دَ دې نظامنامې
به کار کوي.

٤٤.- هغه فقرې چې دَ مشورتو مجلسونه یې وَ نائب الحکومگانو
یا محلّي حاکمانو ته عرضه وي، که تریوې میاشتې
پورې جواب و مجلسو ته نه ورسیږي، مجلسونه
د هغو فقرو عرض و شوراته دَ دولت کولای سي.

٤٥.- شورا دَ دولت به په د اسې فقروکې چې له مجلسو څخه
دَ مشورتو په شکایت ورسیدلي وي خپل فکرونه
لیکي، او و هغه وزارت ته به ور کوي، چې د اسې فقرې
تعلق په لري، که دَ هغه وزارت له خواهم په اجراکې
ځنډ وسي شورا دَ دولت هغه فقرې و حضور ته

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 19 of 28



دَ اعلیحضرت پورته کولای سی .

۴۶.— نظامنامی او قانونی فقری د دولت دَشورای دولت له خوا جوړی او مجلسو ته د وزیرانو وړاندی کیږی ، وروسته له تصویبه دَ وزیرانو او خوښولو دَ حضور دَ اعلیحضرت څخه ئی دَ اجرا ورکاوه کیږی .

۴۷.— تر دا یمی طبیعی اعضا دَ شورای دَ دولت زیات ، ملکی کاردارانو له نائب الحکومه تر لوړ حاکمانو او عسکری منصبداران تر لوا مشره پوری چی له کارداری څخه خلاص وی او تر محاکمه نه وی لاندی ، تو له له طبیعی اعضاوو دَ شورای دولت شمیرل کیږی ، چی تر وقته دَ معلومیدو دَ نوی کار په شورای دولت کی ننوتای سی .

۴۸.— د هر کال بودجه د دخل او خرخ د دولت چه په مالیه وزارت کی جوړیږی ، سم له نظامنامی سره عمومی بودجی په شورای دولت کی کتله کیږی ، او تحقیق او تدقیق یه کیږی .

۴۹.— عهدنامی ، قرارداد ونه ، چه له پردیو سره کیږی ، په شورای دولت کی تدقیق لیتو نه کیږی .

## محکمې

۵۰- په عدلیه محکمو کې هر راز دعوی په ښکاره جاري کیږي
یو څه دعوې چه په خاصه نظامنامه د محکمو کې ښوولې
سوي دي، قاضي د معقود پاره په پټه هم اجرا کولای سي.

۵۱- د محکمو مخ ته هر څوک د پاره د ساتلو د خپل حق توله
شرعي خبرې وړاندې کولای سي.

۵۲- عدلیه محکمې په لیدلو اوریدلو کې د دعوو چه تړواکې په اړوندې
ځنډه او معطلي نه سي کولای.

۵۳- توله محکمې له هر راز اړې او تر لاس لاندې څخه
خلاصې دي.

۵۴- مرازونه او درجې د محکمو- او واکوالې د هرې محکمې په تشکیلاتو
اساسیه نظامنامه کې ښوولې سوي دي.

۵۵- هیڅوک د باندې له عدلیه محکمو څخه د پاره د فیصلې د خاصو
خاصو خبرو یوه نوې محکمه نه سي جوړولای.

## عالي دیوان

۵۶- عالي دیوان د وزیرانو د محاکمې د پاره هر وخت کې د اقتضا

جوړول کېږي، او وروسته دَ پوره کولو دَ خپل کار برېته
متفرق کېږي.

۵۷.- راز دَ جوړولو دَ دیوان عالي او قاعدې د محاکمې دَ دغه
له خپلې خاصې نظامنامې سره سم جاري کېږي.

## مالي کارونه

۵۸.- ټوله محصولات دَ دولت له خاصو نظامنامو سره
سم اَخِستهٔ کېږي.

۵۹.- هر کال دَ دولت دَ دخل او خرڅ دَ پاره یوه **بودجه**
پیودل کېږي، او دغه بودجه اساس دَ ټولو دخلو
او خرڅو دَ دولت دَه، دَ دخل او خرڅ له دې سره سم
کاوه کېږي.

۶۰.- وروسته له سمو لوا وجاری کولو دَ بودجې یو قطعي
حساب مقرر یږي، چه په دې قطعي محاسبه کې
به ټوله مصارف او ملاخِل دَ دولت یو ځای ټول
سوی وي.

۶۱.- دپاره دَ معلومو: لودَ دی خبری (چه دخل او خرڅ

دَ دولت له نظامي سره دَ بودجې سم سوې دې کړنه)
یو دفتر جوړ اوسي ( دیوان سنجش ) دَ دیوان
سنجش دَ پاره جلا نظامنامه سته .

۶۲.- دَ قطعي محاسبې دَ بودجې دَ جوړولو او سمولو
او جاري کولو دَ پاره خاصه نظامنامه سته .

## دولایاتو اداره

۶۳.- دَ ولایاتو اداره او کاروړ ادارې له دوو اساسي
قاعدو څخه جوړه ده ، پراخې دَ اختیار ،
بیلوالې دَ کارو ، پېژانده دَ بازخواست ،
دَ دې دوو قاعدو دَ پاره ټوله کاروونې دَ ولایاتو
دَ کاردارانو سم له نظامنامو سره بېل سوي دي ،
اختیاردارې دَ کاردارانو هم په نظامنامه
کې ښوولی سوی ده ، ټوله کارداران په خپلو
کاردارو کې و پورته حاکم خپل ته جوابله دي .

۶۴.- په ولایاتو کې له هره ښاخه څخه دَ وزارتو
بیل بیل مأموران ولاړ دي ، رعیت به په خپلو

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 23 of 28



کاروکی لمری دَ هغو بنا خو مأموران ولړ ورځی.

۶۵.- که دَ رعیت کارونه په مأمورانو ونه سِی، یا خلاف له نظامنامو پردوی جارِی سی، هر سړی له خپله ولود کار یا له جارِی کولو دَ بی نظامَی و پورته کاردار ته دَ هغه مَأمورا وکه ضرورسی و نائب الحکومه یا حاکِم اعلیٰ ته عرض اوداد کولای سِی.

۶۶.- دَ بلدیه دائرو د جوړ ولو او وظیفو دَ پاره خاصه نظامنامه شته.

۶۷.- که په یوه خوا یا یو تکره کی دَ ملک نخښه دَ یاغی والِی یا دِ نافرمانی ښکاره او معلومه سی، چه و عمومی آرامی ته خلل رسوِی، دولت (دحکومت عسکرِیې) اعلان کوِی، او ادارهٔ عسکریّه (ځمکنیالی دربار) جوړه وی.

## مُتَفَرِّقِی قَاعِدِی

۶۸.- تول رعیّت ته دَ افغانِستان زده کول

داوّلی درجی دَ علم لازم دِی ، درجی اوبیلوالہ
دَتعلیم یہ پہ خاصہ نظامنامہ کی لیک دِی ،
لہ هغی سره سم زده کره کیږي .

۶۹ .- هیڅ قاعده ددی اساسی نظامنامی
په هیڅ سبب او هیڅ دول نہ ستونیږی ،
اوحکم دَ اجرا یہ نہ لویږی .

۷۰ .- کہ پہ لازم والہ سره یوه قاعده دَ دی اساسِی
نظامنامی اړول یا بیرتہ کول وغواړي ، چہ
دوی برخی دَ اعضا دشورای دولت اومجلس
عالی دَ وزیرانو یہ وحضورتہ دَ اعلیحضرت
عرض کړی ، ورستہ لہ خوښولوڅخہ دَ حضور
کہ یہ لازم والہ ښکاره وِی اَړول بہ یہ وکړسی .

۷۱ .- بیا نہ ول او ښکاره شرحہ کول دَ یوی
قاعدی دَ دی اساسی نظامنامی ، یادَ نورو
نظامنامو دَ دولت کہ پکارسی وشورای دولت
تہ سپارل کیږي ، و رستہ دَ ښکاره واضح

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 25 of 28



کولو څخه دَ دوی او ښه بللو څخه دَ مجلس عالی د وزیرانو هغه شرحه چاپیږي او خپور وله کیږی.

۷۱.- په وقت کی دَ جوړولو دَ نظامنامو عرف او عادت دَ رعیتو او اقتضا د وقت او زمانی خصوصًا ساتنه دَ شریعت دَ حکمو په خورا ښه تحقیق سره کاته کیږی.

۷۲.- ساتلو اله د کاغذ و یو ښکاره حق دَ استیدونکو دَ وطن دی، تو له لیکونه او کاغذونه چه په محصول سره و پوسته خانه ته سپارل کیږي، ټوله یوه محکی له خوا پلټنه دَیو کاغذ روا او حکمی نه سی په هیڅ پوسته خانه کی یا بل چیری دَ هیچا کاغذ نه خلاصیږی، او هغه سی ترلی وا ستول سوی ته ورسول کیږي.

## دَ دی اساسی نظامنامی قاعدی

چه په اتفاق دَ فکرو دَ دولت دَ وزیرانو

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 26 of 28



اودَ ټولو ملتي وکیلانو په مجلس کی دَ لوی
جرگی دسمت مشرقی دَ پاره دَ اساس دَ
لوړ دولت دَ افغانستان خوښی
سوِي دِي ، او اتو سوو دوا ویاکسو عثمانو
دَ هغی مرکی سموالہ ددی مهر او دستخط کړی
دَی ، منظور دي .

په شمیر لوسره دَ دے په نظاموکی دَ دولت او په
اجراکی دَ حکمو دَ قاعدو دَ دے حکم ورکوم . بنسه روغ
لسمہ دَ کب دَ میاشتے سنه ۱۳۰۱ ش

http://hdl.handle.net/2333.1/sn02v782 Image 27 of 28



# سمر اوښکاره بیانول د قاعدو د اساسي نظامنامې د لوړ دولت د افغانستان

## سم واله د دویمې قاعدې

دین د افغانستان پاک دین د اسلام دی عمومي او رسمي مذهب ئې
نما نخلی حنفي مذهب ده اهل د نورو دینو لکه هندوان او یهودیان
چه په افغانستان کې دي په وروکول د جزیه او نښه کړ بیلوالی لیاره
د پژاند و د تابع والی ده وی که چیري د عمومي آرامي او لازمي احتراماتو
ته د افغانستان خلل او وبجاړنه و رسوی نو دوی په عین کې د امان
او ساتنې نیول کیږي.

## ښکاره ول د نهمی قاعدی

تول نفوی د افغانستان د دیني او مذهبي او سیاسي نظاماتو
د لوړ دولت تر ځېل تل پیروا و مقید او سید لی آزادي اختیار
داري د خپلو ځانو لري.

## سمووالہ دَ څلورو بنسټي قاعدې

پانګند ه او نورو ازوونه دَ شکنجې کرده موقوف دی بی له شرعي
او نظاماتو دَ دولت چه سم له شرعي سره پیوده شوی وي
و هیچا ته هیڅوك جزانه سی ور کولای.

۱۳۰۳
اساسی نظامنامه دَ افغانستان په میاشت کی دَ سرطان
په یغمان په مجلس کی دَ لوی جرګی چه عالمان او سیدان او مشایخ
او وکلا او رؤسا وو کوده مملکت دَ افغانستان چه سره تول شوي
وه سمواله او منظوری و موند مګر (۲) و (۹) و (۲٤) قاعدې په
قرار دَ فوق تعدیل او توضیح شوه ! دروغ او صحیح دی.

### لاس لیك دَ لوی جرګی دَ منتخبو عالمانو

مولوی محمد ابراهیم کامروی — مولوی عبد الحی پنجشیری رئیس تمیز
مولوی عبد الخالق الصدیقی — مولوی محمد رفیق عفی عنه



مورخه ۳۱ برج: سنه ۱۳۰۳